
برمل، پکتیکا ، افغانستان، © UNHCR/Oxygen Film Studio

## عمومي کتنه

د افغانستان موجوده بحرانونه چې د طبیعي پیښو ، بې ځایه کیدو، اقتصادي ننګونو او ټولنیزو نابرابریو له امله رامنځته شو ي ، په دوامداره توګه زیانمنې او د سرپناه غوښتنې زیاتوي. د افغانستان د ټولیز ارزیابۍ (Whole of Afghanistan Assessment) راپور پر بنسټ د سرپناه غوښتنې ارتیاوې چې په ۲۰۲۳ کال کې ۴٪ وې په ۲۰۲۴ کال کې ۱۲٪ ته لوړې شوي ، پداسې حال کې چې ښځینه سرپرستې کورنۍ په نامتناسب ډول سره د نامناسبې سرپناه ، د بې ځایه کیدو خطر، د ژمنیو جامو محدودیت اود حفظ الصحي ننګونو سره مخ دي.

په ۲۰۲۵ کال کې، د بیړنۍ سرپناه او او غیر خوراکي توکو کلستر (ES-NFI Cluster) بحران ځخه اغیزمنو خلکو ته د ټولو جنسیتونو او تنوع په نظر کې نیولو سره بیړنۍ سرپناه، غیر خوراکي توکي، انتقالي سرپناه(Transitional Shelter) ، بیارغوونه او موسمي ژمنۍ مرستې چمتو کړي، د جنسیتي توپېرونو او زیان منونکو کورنیو د ستونزو د حل لپاره، کلستر ټولو زیانمنو ډلو ته چې ښځینه، معلولین او د ځانګړې ارتیاوو لرونکې اشخاص پکې شامل دي اورد مهاله حل لارو لکه: د سرپناه ترمیم، بیا رغونه او انتقالي لارو ته لومړیتوب ورکوي. د ناورین د خطر کمولو هڅې به په لوړ خطر لرونکو سیمو تمرکز وکړي، چې د لومړنې خبرتیا سیسټمونه ، د ټولنې چمتوالی او د میشتیدنې پلان ته وده ورکول پکې شامل دي. مرستې به د سیمه ییزو شرایطو، بې ځایه کیدو مراحلو او د استوګنې د مودې د تعین پراساس تنظیم شي، هغو ولسوالیو ته لومړیتوب ورکول کیږي چې د ناڅاپي طبیعي پیښو، سخت ژمي او غیر رسمي استوګنځایو له امله اغیزمن شوي وي.

د خوندیتوب د اصولو مطابق او د عمر، جنسیت او تنوع (AGD Framework) چوکاټ له مخې، کلستر به د عملیاتي ننګونو د حل لپاره له مربوطه چاروواکو سره له نږدې کار وکړي. همدارنګه، د کلستر د غړو له پراخه تخصص، معیاري شاخصونو، لارښوونو او معیاري وسایلو څخه په ګټې اخیستنې د اړتیا سره سم د سرپناه او غیر خوراکي توکو د اړتیاوو ته غبرګون ډاډمن کړي.

## د اړتیاوو مهم عوامل

**د اورد مهاله سرپناه اړتیاوې:** ۱۸،۴۰۰ کورنۍ په خېمو/ویجاړو شویو کورونو کې ژوند کوي؛ ۸۷٪ بیرته راستنېدونکي کورنۍ سرپناه بیړنۍ اړتیا بللی ده.

**جنسيتي نابرابري :**ښځینه سرپرستې او بې ځایه شوي کورنۍ د زیاتو ګواښونو او زیان منونکو حالاتو سره مخ دي.

**جغرافیایي تمرکز:** طبیعي آفاتو ځپلي، د زیات شمیر بیرته راستنېدونکو لرونکو کوربه، سخت ژمي او له غیر رسمی استوګنځایو څخه د بې ځایه کیدو له خطر سره مخ سیمو ته لومړیتوب ورکول.

**مقرراتي خنډونه:** د فعلي چاروواکو له لوري د وضع شویو محدودیتونو له امله راپورته شوي عملیاتي خنډونه .

**حاد او سیستماتیک اړتیاوې:** د ژوند ژغورنې فوري غبرګونونو او اوږدمهاله ننګونو ترمنځ توازن.

**موسمي ناورینونه:**( El-Nino, La-Nina) سېلابونه، سخت ژمی او د ۲۰۲۵ کال لپاره د ال‌نینو له امله د وچکالۍ وړاندوینه.

**د سرپناه او غیرخوراکي توکو خلاوو زیاتوالی:** د سرپناه اړتیاوې له ۴٪ څخه ۱۲٪ ته پورته شوي ؛ د ژمني جامو کمښت له ۳۹٪ څخه ۵۷٪ ته لوړ شوي.

**د غیر رسمي استوګنځایو اړتیاوې (ISETs Needs):** کابل ته د ۹۵۰ کورنیو د راستنیدو پلان سره سم بیړنۍ اړتیاوې د لوړیدو په حال کې دي؛ تمه کیږي چې په ۲۰۲۵ کال کې ۱۴،۰۰۰ نورې کورنۍ هم راستنې شي.

**د ټولنې لومړیتوبونه:** د بحران څخه اغیزمنو ټولنو ته د مسئولیت پوره کولو تضمین (AAP) او د نظریاتو ادغام.

**اقتصادي ننګونې:** د بیکارۍ د کچې زیاتوالی او پورونه مقاومت کموي او بشري اړتیاوې زیاتوي.

## کلیدي ارقام

| د اړمنو خلکو شمیر | په نښه شوي خلک | اړتیاوې ($) |
|---|---|---|
| 5.8 میلیونه | 1.1 میلیونه | 179.1 میلیونه ډالره<br>16.9 میلیونه ډالره CCCM |

# د اړمنو او په نښه شوو خلکو تفکیک

## د نفوس د ډلو پر بنسټ

| | داخلي بې ځایه شوي | د سرحد نه بیرته راستنیدونکی | د طبیعي آفاتو څخه اغیزمن کسان | زیانمنونکی وګړی |
|---|---|---|---|---|
| د اړمنو خلکو شمیر | 205K* | 778K | 250K | 4.5M* |
| په نښه شوی خلک | 205K | 121K | 250K | 512K |

* K--- زر ، M--- میلیون

## د جنسیت او عمر پر بنسټ

| | جنسیت | | عمر | | | معلولین |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د اړمنو خلکو شمیر | نارینه: 3.2 میلیون | ښځینه: 2.5 میلیون | مشران: 119 زره | ځوانان: 2.5 میلیون | ماشومان: 2.8 میلیون | 119 زره |
| په نښه شوی خلک | سړی: 596 زره | ښځي: 491 زره | مشران: 23 زره | ځوانان: 543 زره | ماشومان: 522 زره | 98 زره |

# د بیړني سرپناه او غیر خوراکي توکو کلسټر اهداف او شاخصونه

| ګڼه | د کلسټر شاخصونه | اهداف (2025) |
|---|---|---|
| 1 | د هغه کورنیو سلنه چې د یو کال په موده کې پې د بیړنی سرپناه څخه اوږدمهاله سرپناه ته د انتقال په موخه د انتقالي سرپناه مرستې ترلاسه کړې دي. | 6% |
| 2 | د ځانګړي اړتیاوو لرونکو اشخاصو شمیر چې ښځینه سرپرستي کورنۍ او معلولین پکې شامل دي او د سرپناه د ترمیم او جوړولو لپاره پې ځانګړې تخنیکي مرستې ترلاسه کړي. | 98,623 |
| 3 | د هغو اشخاصو شمېر چې د انتقالي سرپناه جوړولو مرستې یې ترلاسه کړي. | 121,786 |
| 4 | د معلولینو شمېر چې له اړیني مشورې وروسته پې د ځانګړو اړتیاوو سره سم د بیړني سرپناه او غیر خوراکی توکو مرستې ترلاسه کړې دي. | 163,156 |
| 5 | د هغو اشخاصو شمېر چې د لا خوندي او باعزته ژوند په موخه یې د سرپناه د ترمیم مرسته ترلاسه کړې. | 206,958 |
| 6 | د هغو اشخاصو شمېر چې د بیړني سرپناه مرستې او د کرایې لپاره یې مالي مرسته ترلاسه کړې ده. | 479,394 |
| 7 | د هغو اشخاصو شمېرچې د بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې د لومړني اړتیاوو کور توکي/غیر خوراکي توکي ترلاسه کړي دي. | 503,239 |
| 8 | د هغو اشخاصو شمېر چې موسمي ژمنی مرستې (بخاری، سون توکي، ژمنی جامې او کمپلې) یې ترلاسه کړې دي. | 1,005,630 |

# د بیړني سرپناه او غیر خوراکي توکو کلسټر مهمي اړتیاوې او موخې

